**United Nations**
**Assistance Mission in Afghanistan**

## PRESS STATEMENT

25 August 2024
Press contact: spokesperson-UNAMA@un.org

**د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د مشرې بیانیه**

**کابل،۲۰۲۴ د اګست ۲۵مه -** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) په دغه هیواد کې د حاکمو چارواکو له خوا د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د یوه قانون په صادرولو اندېښنه څرګندوي، چې د اشخاصو په فردي چلند پراخ محدودیتونه وضع کوي او محتسبینو ته د پلي کولو واکونه ورکوي.

روانه اونۍ حاکمو چارواکو د " امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون" تصویب کړ، چې د ۳۵ مادو په لرلو او د پلي کولو له سختو میکانیزمونو سره د افغان وګړو لپاره د پام وړ محدودیتونه توضیح کوي.

د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې او د یوناما مشرې روزا اوتنبایوا وویل: " دا د افغانستان راتلونکي لپاره یو زورونکی لیدلوری دی، چیرې چې محتسبین اختیاري واک لري چې د پراخو او کله ناکله د ناڅرګندو سرغړونو د لست پر بنسټ هر څوک وګواښي او توقیف یې کړي".

نوموړې وویل: " دا د افغان ښځو او نجونو پر حقونو باندې د نه زغملو وړ محدودیتونه لا پراخوي، ان له کوره بهر د ښځو غږ په ښکاره ډول اخلاقي سرغړونه ګڼل کېږي".

د قانون متن د افغانستان د مذهبي ټولنو بشپړې تنوع ته په کتو سره، د مذهبي ازادۍ په اړه اندېښنې له ځانه سره لري، او همدارنګه لا نور محدودیتونه پکښې نغښتي دي چې د خبریالانو او رسنیو کار به اغېزمن کړي.

اغلې اوتنبایوا زیاته کړه: "له لسیزو جګړو وروسته او یوه ناوره بشري ناورین په ترڅ کې، افغانان له دې څخه چې د لمانځه لپاره د ناوخته کیدو، د مخالف جنس یو غړي ته په کتو چې د کورنۍ غړی یې نه وي او یا هم دیوه ګران شخص د انځور لرلو له کبله د ګواښېدو پر ځای یو ښه چلند ته اړتیا لري."

هغې همدارنګه وویل: " نړیواله ټولنه په ښه نیت سره هڅه کوي چې له حاکمو چارواکو سره په رغنده توګه ښکیل شي. نړۍ غواړي افغانستان د سولې او سوکالۍ په لاره کې وویني، چې ټول افغانان په کې د خپلې راتلونکي په ټاکلو کې برخه ولري، حقونه ولري او یوازې داسې نه وي چې د ډسپلین سپارښتنې ورته وشي. د افغانانو د حقونو لازیات محدودول او په دوامداره ویره کې ساتل به هدف ته رسیدل لا نورهم ګران کړي" .

د یوناما په راپور کې چې د جولای په میاشت کې خپور شو، د حاکمو چارواکو لخوا د اخلاقي نظارت د پالیسیو او فعالیتونو په اړه د بشري حقونو د اغزمنتیا اندیښنې په کې په تفصیل سره بیان شوي دي.

یوناما نوی تصویب شوی قانون او د افغانانو لپاره یې پایلې او همدارنګه د ملګرو ملتونو او د هیواد لپاره پر نورو حیاتي بشري مرستو یې احتمالي اغیزې مطالعه کوي او د یو شمیر مادو او د پلي کیدو د پلانونو په اړه له حاکمو چارواکو څخه د توضیحات غوښتنه کوي.

د لومړۍ بیاکتنې له مخې، د قانون دوه مادې مثبت ګامونه بلل کیږي، یو یې له یتیمانو سره د ناوړه چلند منع کول او بل یې د بچه بازي د دود منع کول، چې له ځوانو هلکانو څخه د شخصي جنسي ګټې لپاره د کار اخیستلو ناوړه دود دی. همدارنګه له حاکمو چارواکو څخه غوښتل شوي دي چې، د جنسي تیري څخه د ساتلو په ګډون د ماشومانو د تحفظ لپاره اقدامات لا زیات کړي.

یوناما حاکمو چارواکو ته یو ځل بیا ټینګار کوي چې افغانستان د یو دولت په توګه د بشري حقونو د اوو مهمو نړیوالو سندونو غړی دی. د امنیت شورا 2681 (2023) پریکړه لیک هم پر طالبانو غږ کړی چې ژر تر ژره هغه تګ لارې او کړنې ودروي چې د ښځو او نجونو له بشري حقونو او بنسټیزو آزادیو څخه د دوی ګټه اخیستنه محدودوي.

لکه څرنګه چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لخوا وظیفه ورکړل شوی، یوناما د بشري حقونو او د ښځو د حقونو اړوند مسایلو څارنې، راپور ورکولو او ښکیلتیا ته دوام ورکوي، او له حاکمو چارواکو سره یې مستقیم بحثونه روان ساتلي دي.

میرمن اوتنبایوا به د سپتمبر په ۱۸مه نیټه د افغانستان د وضعیت په اړه د امنیت شورا ته خپل راپور وړاندې کړي.

یوناما ته د امنیت شورا د 2626 (2022) پریکړه لیک له مخې ماموریت ورکړل شوی چې د 2678 (2023) پریکړه لیک او 2727 (2024) پریکړه لیک له مخې یې ماموریت تمدید شوی دی.

دغه ماموریت یوناما ته دنده سپاري چې د بشردوستانه اصولو، بشري حقونو، د ښځو او نجونو د برابری، ټول شموله حکومتولی، انعطاف او اقتصادي ثبات سره سم د بشردوستانه مرستو ملاتړ وکړي او ورته وده ورکړي او همدارنګه د افغانستان د سولې او ثبات په موخه له ټولو ملي، سیمه ییزو او نړیوالو ښکیلو اړخونو سره رغنده ښکیلتیا ولري.

* * *